بسم الله الرحمن الرحیم

# اداره او مدیریت


لیکوالان: محب الله یار – محمد ولي نجات

خپرندوی: لیکوال خپرندویه ټولنه-ننګرهار

ډیزاین چارې: وحید الله اسلام

چاپشمېر: ۱۰۰۰ (یو زر) ټوکه

چاپ کال: ۱۳۹۷ ل/۲۰۱۸ز

چاپ وار: لومړی


کتاب موندلو ځای:


**لیکوال** کتاب پلورنځی

پښتونستان واټ، عمران شګیوال پلازه، دویم پوړ، جلال آباد

۰۷۸۹۸۹۴۲۶۰



د دې کتاب د چاپ او پر ویب پاڼو او ټولنیزو رسنیو د خپرولو حقوق له خپرندویه ټولنې سره خوندي دي.

# د خپرندویه یادښت

لیکوال ویاړي چې د خپلې ټولنې د معنوي خدمت لپاره یې پر داسې یو ډاډمن لوري گام پورته کړی چې پایلې یې په هیله بښونکې تسکین څرخي. په دې برخه کې زموږ تمه له هغو قدرمنو اکاډمیکو کادرونو څخه ده چې په علمي بهیر کې د خپل بېوزله ولس پر ځوانه روزنه خپله معنوي انرژي مصرفوي. په دې لړ کې له درنو استادانو محب الله یار او محمد ولي نجات نړۍ مننه چې پر لیکوال یې د خپل "ادارې او مدیریت" د چاپ باور وکړ، موږ استادانو ته په دې برخه کې د لاغوړېدنې او هوساینې دعا کوو، ژوند یې ویاړمن او سوکاله اوسه.

**درنښت**

**لیکوال خپرندویه ټولنه**

**زموږ اساسي ستونزه څه ده؟**

یو بهرني راسره یو وخت په بحث کې وویل: "د افغانانو د بدمرغۍ اساسي ستونزه بې مدیریته ژوند کول دي." نوموړي د خپلې خبرې د استدلال لپاره پر بدلون خبره وکړه او وې غزوله چې د پرمختیایي ژوند بنسټیز اصل پر مدیریت ولاړ دی. د سړي دا خبره ظاهراً ډېره ساده؛ خو حقیقت کې ډېره ژوره وه.

د انساني فطرت ټول ماهیت په بدلون پورې تړلی او پر همدغه مدار څرخېدونکې ځانګړنه لري؛ ځکه خو له پیدابښت تر مړینې هره شېبه، هر ساعت، هره ورځ، هره اونۍ او .... د بدلون له پړاوویز بهیر سره مخ دی؛ خو بریالي انسانان هغه دي چې خپل ژوند یې د دغو بدلونونو مدیریتي اهمیت ته په کتو منظم روان کړی وي.

بدلون په هر حالت کې انسان ته نوی لوری ورښیي، خلک د بدلون کلمه ډېره کاروي؛ خو کېدی شي بدلون ډېرې ماناوې ولري، موږ خپل پوشاک بدلوو، که مو کار ځای کې مېز- څوکۍ یا فرش زوړ شي هغه بدلوو، برېښنایي څراغ هم تر سوځېدو وروسته بدلوو. دغه ټول بدلونونه اصلاُ د ښه والي او هوساینې په موخه دي؛ ځکه زموږ پرتن جامې چې زړې یا خیرنې شوي له اغوستلو یا کارولو یې سترې شوي یو او غواړو د نوښت پر لور بدلون ته لار پرانیزو، همدغه تعامل د انسان په ټولنیز ژوند کې له فردي مدیریت نیولې آن تر څوکسیز او ډله ییز مدیریت پورې یې ریښې غزولي او اغېز یې په هر حالت کې حس کېدونکی دی. اداره او مدیریت هم د انساني ژوند د پرمختیا او لوړتیا په موخه رامنځته شوي او هره ورځ په کې پر نوو مسایلو او اړتیاوو بحثونه کېږي، ستونزې تشخیصېږي او پر حللارو یې ګڼ نظرونه راټولېږي؛ ځکه خو اداري چارې په کل کې د فردي مدیریتونو هغه ټولګه ده چې د ټولنیزو احتیاجاتو په غوره بڼې حلولو لپاره وخت په وخت همغږې چارې مخته وړي.

که موږ هم غواړو چې د یو ویښ ملت په حیث سیال او له ګټورو بدلونونو سره مل ژوند ولرو پکار ده چې له فردي، کورني او کاري چاپیریال سره تړلې ټولې چارې مو په مدیریتي ماهیت او ارزښتونو څرخېدونکې وي او تر بل هرڅه پر دې اړخ پوهېدلو ته لومړیتوب ورکړو.

درنښت

**محب الله یار**

**د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځي د ادارې او دیپلوماسۍ څانګې امر**